# د يو کب نيونکي او د هغې د ښځې خيالي کيسه

د الماني خيالي کيسو (قصو) څخه

**ډيپلوم انجينېر اسدالله ملکزی**



يو وخت يو کب نيونکی د خپلې ښځې سره په يوې وړې کوډلې کې ژوند کاوه او ډېر بې وزلي وو. کله کله داسې ورځې به وی چې هيځ کوم کب به يې د پلورلو د پاره نه شو نيولی. يوه ورځ کب نيونکي

سهار د وخته خپل د کب نیولو خنجک را واخست او ساحل ته ولاړ. ډېر وخت وروسته ویې لیدل چې خنجک یې راښکل کیږي. کب نیونکي ژر خنجک ټینګ کړ او ځان ته یې راکاږه. ګوري چې ډېر یو ښکلی غټ کب په چنګک کې نښتی دی.



کله چې دغه کب یې وچې ته راښکه، نو په دې وخت کې کب وویل: «ای ځوانه! که ته ما ونیسې او په بازار کې مې وپلورې، نو ته به فقط یو څو روپۍ وګټې او هغه به هم ژر درڅخه ولګیږي (مصرفې شي) او که ته ما ژوندی بېرته سمندر ته ایله کړې، نو زه به یو وخت وکولای شم چې تا سره مرسته وکړم!»

کب نیونکي وویل: « ته دومره ښکلی کب، ما هم نه غوښتل چې تا بازار ته یوسم او ودې پلورم!» هغه وو چې کب یې بېرته په سمندر کې خوشې کړ اوکب نیونکی بېرته تش لاس کور ته راغی او خپلې ښځې ته یې ددی کب د خبرو کولو او ښایست کیسه وکړه. ټوله شپه ښځه په سوچ کې وه، او خپل مېړه ته یې وویل: « کېدی شي په رښتیا دا کب مونږ سره مرسته وکړي او مونږ د دغې بدبختۍ نه خلاص کړي، سهار وخته بیا ساحل ته ولاړ شه او کب ته زمونږ د بې وزلۍ ووایه، کېدی شي چې هغه مونږ سره مرسته وکړي!»



کب نویونکی سبا سهار وخته ساحل ته ولاړ او کب ته یې دا ډول غږ کړ:

« مانتېر مانتېر تېمپېتر بوتې بوتې په سمندر.

زما ښځه ایلزبتل غوارې دا چې ما غوښتل.»

دا دی چې د سمندر په څپو کې ښکلې کب ځان ښکاره کړ او ویې پوښتل: « څه غواړی، کب نیونکیه؟»

کب نیونکي وویل: « دا چې ما ته د مرگ نه وژغورلې، نو که ته کولای شې، زما یوه غوښتنه تر سره کړه. هغه دا چې مونږه د یوې ښکلې کورگۍ او ښه خوراک هیله مند یو.» کب وویل: « ځه ولاړ شه کور ته، ټول همداسې دي، کوم چې تا غوښتل!» کله چې کب نیونکی کورته ولاړ، گورې چې د هغې د ورې زړې کوټنۍ په ځای یو ښکلی او ټینگ کور د باغچې او چرگانو سره ولاړ دی.



کب نیونکی د ښځې سره کور دننه ولاړ او مېز ته کیناستل، کوم چې پر میز ښکلې خواړه تیار وو. دوی دومره وخوړه چې نور یې نه شو کولای. بیا د خوب کوټې ته ولاړل او ویده شول.

ځو میاشتې دوی په خوشحالي ژوند وکړ. کب نیونکي هره ورځ به یې کبان نیول. دوی نور لکه د پخوا په شان بې وزلي نه وو. خو یو څه موده وروسته د کب نیونکي ښځې ارام نه لرو او خپل مېړه ته به یې ویل: «چې ولې ددې نه بل ښه کور نه لرو؟ دا خو وړوکی دی. دا کب ځومره بخیل وو چې مونږ ته یې غټ کور رانه کړ. بېرته ولاړ شه او د کب نه د فیوډالانو کور غوښتنه وکړه!» کب نیونکي دا نه غوښتل، خو ښځې یې مجبورکړ چې د کب نه غوښتنه وکړي.



کب نیونکی سمندر ته ولاړ، نري شمال د سمندر د وړو څپو نه ښکلې نغمه پورته کوله چې کب نیونکي کب ته غږکړ:

« مانتېر مانتېر ټېمپېټر بوتې بوتې په سمندر.

زما ښځه ایلزبتل غواړي داچې ما نه غوښتل.»

دادی چې کب خپل ځان ښکاره کړ، او د کب نیونکي څخه یې د ښځې د غوښتنې تپوس وکړ. کب نیونکي د ښځې غوښتنه وویله. کب وویل: «چې ځه هر څه تیار دي.» کب نیونکی په ډېرې تېزۍ سره کورته منډې کړې، کله چې کور ته ورسېد، ګوري چې د مخکني کور په ځای یو ډېر ښکلی او ځلېدنکی کور چې شاوخواته یې شینلۍ (چمن) او پکې طاوس ګرځي، ولاړ وو. د ښځې په غاړه د وریښمینو جامې وې. بیا څو میاشتې وروسته ښځې یې ارام ونه کړ او مېړه ته یې وویل: «چې نه کیږي ددې نه نور ښه ژوند ولرو؟» مېړه یې چې په یو ښکلي لوی بالښت ډډه کړې وه، خپل سر یې وخوځولو.



ددې دواړو پخوانی ژوند له یاده وتلی وو. ښځې یې خپل مېړه ته وویل: «چې ولاړ شه کب ته ووایه چې ما ملکه کړي.» کب نیونکي په وېرې وویل: «چې زه دا غوښتنه د کب څخه نه شم کولای.» خو ښځې خپل مېړه د کوره وویست او سمندر ته یې ولېږه. دا ځل اسمان بل ډول ښکارېده او په سمندر کې لویې لویې څپې وې چې کب نیونکي غږ کړ:

« مانتېر مانتېر تیمپېتر بوتې په سمندر.

زما ښځه ایلزبتل غواړي دا چې ما نه غوښتل.»

په سمندر کې غږ راپورته شو او کب سر را پورته کړ او ویې ویل: «چې ښځه دې بیا څه غواړي؟» کب نیونکي وویل: «زما ښځه غواړي چې

زه پاچا او ښځه مې ملکه شي.» کب دا هم ومنل او دوی څخه پاچا او ملکه جوړ کړل. کله چې کب نیونکی کور ته راغی، ګوري چې د مخکني کور په ځای د پاچاهي ماڼۍ ولاړه ده او ښځه یې د پاچاهي په تخت چې تاج یې په سر دی، ناسته ده.



دا هم ولاړ او د خپلې ښځې خواته کښېناست. ډېر کلونه دوی خوشحاله او په خوښۍ تېري کړې.

یوه ورځ وه چې د ښځې رنګ الوتی، په ځای ددې چې په نیلۍ چکر وهلو ته ولاړه شي، په کړکۍ کې ناسته وه او سمندر ته یې کتل. کله چې شپه شوه نو بیا یې خپل مېړه ته وویل: « زه د دغې ژوند نه مړه شوې یمه، نه شي کېدی چې ددې نه لا ښه ژوند ولرو؟ ولاړ شه سمندر ته او کب ته ووایه چې تا شاهنشاه او ما ستا ملکه کړي.» کب نیونکي دا نه غوښتل خو د ښځې د وېرې ولاړ. ګوري چې سمندر ډېر تورتم او خراب ځک (قف) لري. دلته بیا کب نیونکي غږ کړ:

« مانتېر مانتېر تېمپېتر بوتې    بوتې    په    سمندر.

www.dawatmedia24.com

زما ښځه ایلزبتل غواړي دا چې ما نه غوښتل.»

سمندر طوفاني شو او کب د اوبو سر ته ځان ښکاره کړ او ويې ويل: « بیا ستا ښځه څه غواړي؟» کب نیونکي ځواب ورکړ چې هغه غواړي مونږ شاهنشاهان شو. کب ورته دا غوښتنه هم ومنله. کله چې کب نیونکی کور ته راغی، ګوري چې د شاهي ماڼۍ په ځای د شاهنشاهي ماڼۍ ولاړه ده.

ددې ماڼۍ په مخ کې ښځه یې ولاړه او د شاهنشاهي کوټ یې په غاړه او د شاهنشاهي تاج یې په سر دی.



www.dawatmedia24.com

ددي په مخ کې ډېر خلک په احترام ولاړ دي. ښځې خپل مېړه ته وويل: « ګورې، داسې څه نه شته چې کب جادو ونه شي کړی!» مېړه یې وپوښتل: « اوس نور بل اخره ته راضي شولې؟» راضي؟ زه د طالع نه بېښي الوزم. کب نيونکي هيله لرله چې نور به کب ته د کوم شي غوښتنې ته نه ځم او په خپلې ماڼۍ کې ارامه ژوند وکړم.

ډېر کلونه کب نيونکي او ښځې يې په خوښۍ سره تېرې کړی. ډېر شاهان او ملکې، شاهزادګان او شاهزاده ګانې، اشرافي کورنۍ ددوی احترام ته به راتلل او تلل.

خو يوه ورځ د کب نيونکي ښځه، هغه څوک چې راتلل، په قهره شوه او ټول یې وډارول. د ډېره قهره خپل جواهرت يې د کړکۍ څخه وغورځول او مزدورانو ته يې وويل چې ولټوي.



مزدورانو يې ساعتونه ساعتونه په بوټو کې تېر کړل، چې بل اخره دا يې پيدا کړل او ملکې ته يې راوړل. ملکې د قهره دا بېرته واخستل او د کړکۍ څخه يې بهر وغورځول او مزدورانو باندې چغې وهلې چې ولې

يې په لټون کې دومره ځنډ وکړو.کب نیونکي هیڅ جرئت نه لرلو چې ښځې ته یې څه ووایې.

بل اخره کب نیونکي وپوښتل:« ته څه غواړی؟» ښځې یې مخ واړولو او سمندر ته یې کتل. پر سمندر یو طوفان ښکارېده او په اسمان کې توري ورېځې تاوېدلې.

زه غواړم چې ته هغه کوډګر کب ته ولاړ شه او ورته ووایه چې هغه ما د نړی د کاتولیکانو مذهبي مشره کړي. دلته کب نیونکی په خندا شو. «د کاتولیکانو مذهبي مشره؟ ولی اوس غواړی چې ته مذهبي مشره شي؟ ته وګوره چې مونږه ښنګه ژوند لرو؟» ښځې چیغې کړې او ویې ویل: « زه غواړمه چې د کاتولیکانو مذهبي مشره شمه. زمونږ نه ټیټ خلک نور مونږ ته احترام نه لري، نو ځکه غواړمه چې مذهبي مشره شمه چې د هغوی مونږ خوښ شو.»

کب نیونکي وویل: « ښځې! ته هغه پخوانی وخت رایاد کړه چې مونږ هیڅ نه لرل! د ولګې او یخنی نه به مونږ رپیدلو!» ښځه یې په قهره شوه او ویې ویلې: « هغه ورځې نور تېرې شوي، ځه کب ته او ورته زما د غوښتنې ووایه.»



کب نیونکی سمندر ته راغی او کب ته یې نارې کړې:

« مانتېر مانتېر ټېمپېټر بوټې په سمندر.

زما ښځه ایلزبټل غواړي دا چې ما نه غوښتل.»

کب د طوفاني سمندر څخه ځان ښکاره کړ او ویې ویل: « ستا ښځه نو بیا څه غواړي؟» کب نیونکي په ډېرې سختۍ سره وویل: « هغه غواړي چې د کاتولیکانو مذهبي مشره شي.» کب داځل هم ومنله او ویې ویل: « ځه ولاړ شه کور ته دا هم وشول.»



کله چې کب نیونکی راستون شو، ګوري چې د شاهنشاهي ماڼۍ په ځای یوه ځلېدونکې د کاتولیکانو کلیسا ولاړه ده چې په منځ کې یوه ډېره ښکلې ودانۍ د رنګه کړکۍ ګانو سره ولاړه ده. ددې مخې ته یې ښځه چې عادي خلک او ملایان ورته په احترام دي، ولاړه ده. د کب نیونکي خوله خلاصه پاتې شوه، کله چې ویې لیدل خلک مخ په زیاتېدو دي او راځي د ښځې یې لاسونه ښکلوي. کب نیونکي سر وخورولو او د سمندر څخه لرې ولاړ، کله چې تورتم شو، بېرته راغی.



تر یو وخته دوی دواړه ډېر خوشحاله وو. دوی په ډېرو ښکلو کورو کې ژوند کاوه، هرې خوا ته به یې سفرونه کول، هر چېرې چې به تلل د ټولو خلکو به خوښېدل.

کب نیونکي د خپلې ښځې څخه وپوښتل: « ښځگه زما گرانې، اوس خو به خوشحاله یې؟» ښځې یې وویل: « هو هو ډېره خوشحاله او نیک بخته یمه.»

ورځې همداسې تېرېدلې. کب نیونکي جادوگر کب نور له سره هېر کړی وو. د خپل نوي ژوند سره ډېر خوښ وو. ددې ښځه ایلزبتل ډېره مهربانه او دینداره مذهبي مشره وه. د هر چا خوښېدله. ایلزبتل به خپل کارونه ډېر په پوهې مخ ته وړل. د مظلومو، غریبانو او رنځورانو

سره به يې مرسته کوله. کليسا به د خلکو نه ډکه وه او هغه ډېره مصروفه وه، چې د تېر او راتلونکي په برخه کې فکر وکړي.
خو يوه ورځ سهار د کب نيونکي ښځې لمر وليد، چې څنګه د سمندر شا نه پورته کيږي! څومره ښه او درونډ پورته کيږي! نړۍ ته ډېره روښنايي او تودوخي ورکوي! دا د سمندر څپو ته څنګه ښکلی طلايي رنګ ورکوي!
د کب نيونکي ښځه په انديښنو کې ولاړه، سره ددې چې دا د کاتوليکانو مذهبي مشره هم ده خو نه شي کولای چې داسې عجايب وکړی شي. دا نه شي کولای چې لمر پورته کړي. ټوله ورځ دا کړکۍ ته يواځې ناسته وه او کتل يې. د لمر لوېدو په وخت کې دې فکر وکړ: «دا لمر څومره ښه او ښکلی دی! څنګه دا د وريځو شاته پټيږي او سمندر په طلايي او کهربا بدلوي! خو سره د دومره قدرت بيا هم زه يو انسانه يمه! که چېرته ما د لمر ختل او غورځېدل کولای شو! که چېرته ما باد او ورښت (باران) راوستلای شو او په سمندر کې طوفان منځ ته راغلی وای! که چېرته دا ټول فقط ما کولای شولای!»



هغې خپل مېړه، کب نيونکي ته غږ کړ او ورته ويې ويل: « زه تاته يو کار لرم.» کب نيونکي ورته وويل: « وايه، زه ستا د پاره هر څه کوم.» ښځې ورته وويل: «چې ولاړ شي سمندر ته او کب ته ووايه چې ښځې ته يې د خدای پاک په شان قدرت ورکړي.» د کب نيونکي رنګ داسې والوت لکه چې برق نيولی اوسي، او چيغه يې کړه چې نههههه! ښځې ورته وويل: «که ته دا نه کوی، زه تا وژنمه.»

دا بېوزلی کب نيونکی سمندر ته ولاړ او کب ته يې غږ کړ:

« مانتېر مانتېر تېمپېتر بوتې بوتې په سمندر.

زما ښځه ايلزبتل غواړي دا چې ما نه غوښتل.»

www.dawatmedia24.com

کب ډېر ژر خپل سر راښکاره کړ او ویې ویل: «د هغې غوښتنه څه ده؟» کب نیونکي د وېرې نه خبرې نه شو کولای، خو په لړزیدلي غږ سره وویل: «هغه غواړي چې د خدای پاک په شان قدرت ولري.»



د سترګو په رب کې یو غړمبېدونکی طوفان راغی، تالنده او برېښنا شوه. د څګ لرونکي طوفاني څپو تر منځ د کب غږ پورته شو او په ډېر قهر سره یې وویل: «څه کور ته کب نیونکیه!»

د دغه سخت طوفان په جریان کې، کوم چې ټوله سیمه طوفاني شوې وه، کب نیونکي کور ته منډې کړې. کله چې هغه خپل ځای ته ورسېد، ګوري چې هغه ځلېدونکې کلیسا، رنګه کړکۍ ګانې او ټول ښکلي ځایونه ورک شوي. ددې په ځای بېرته هم هغه وړه د فقر او

فلاکت نه ډکه کوټنۍ ولاړه ده. د دغې کوټنۍ مخې ته ددې ښځه چې هم هغه ناولي جامې چې تل به یې اغوستې ، په غاړه او ولاړه وه.



کب نیونکي منډه کړه او خپله ښځه یې په غیږ کې ونیوله. تر هغه دوی ولاړ وو، چې ترڅو طوفان ارامه شو او لمر ښکاره شو. ښځې وویل: «مونږ هیڅ بدمرغه نه یو، ښه داده چې زه او ته د یوبل په خوا کې یو. او دا د هر څه نه مهمه ده. زه هیڅکله نور نه غواړم چې مالداره او یا باقدرته شمه.»

کب نیونکي خپلې ښځې ته وویل: «ما فکر وکړ چې طوفان به ته الوزولې یې. راځه چې دننه ولاړ شو او خپل ژوند بېرته د سره پیل کړو.»